دولت جمهوری اسلامی افغانستان
د فتر مشاور ارشد رئیس جمهور در امور
مردمی و سیاسي

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
په ولسي او سیاسي چارو کې د جمهوري
ریاست د ستر سلاکار دفتر

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Office of the Senior Advisor to the President in political and Public Affairs**

د دفتر ریاست

نیټه: ۱۴۰۰/۲/۳۰

(۹۵)

د ا.ا جمهوري دولت د چارو اداري محترم لوي ریاست ته!

د سلامونو او نېکو پېرزوینو په وړاندې کولو سره؛

موضوع:د حزب اسلامي سره د سولې د هوکړه لیک د تطبیق د کمېسیون د اجناسو ثبت.

لکه څرنګه چې د حزب اسلامي سره د سولې د تړونلیک پلي کولو ګډ کمېسیون د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د (۱۳۱) ګڼې فرمان د ۰۸/میزان/۱۳۹۵ نېټې په اساس خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي او په دې وروستیو کې د جلالتمآب جمهور رئیس د ۱۰ ګڼې ۵/حمل/۱۳۹۸ نېټې حکم په اساس د یاد کمېسیون چارې په ولسي او سیاسي چارو کې د جمهوري ریاست عالي مقام ستر سلاکار ضیاء الحق امرخیل ته وسپارل شوې.
دا چې حزب اسلامي سره د ګډ کمېسیو دفتر په شش درک کې موقعیت درلود او د بودجې د کموالي له امله نور یاد دفتر کرایې ورکولو ته دوام نه شو ورکولی نو په چارو اداره کې د ۱۴۰۰/۱/۱۵ نېټې په جلسه کې چې د چارو اداري د لوي ریاست د دفتر رئیس پښتون صیب، دفرهنګي چارو رئیس استاد محبوب، د چارو اداري د سلاکار ښاغلي صمیم او په ولسي اوسیاسي چارو کې د ستر سلاکار د دفتر رئیس ادم خان سیرت په ګډون ترسره شوه، پرېکړه وشوه چې دحزب اسلامي مشترک دفتر او د یاد مشاوریت کارکوونکي دې دملي ثبات نهاد په دفتر کې خپل فعالیت ته دوام ورکړي او ټول هغه اجناس چې د ګډ کمېسیون اړونده دي د ولسي او سیاسي چارو مشاوریت لخوا دې یو ۳ کسیزه پلاوی ورته وټاکل شي ، دثبیت وروسته دې په ولسي او سیاسي چارو کې دعالي مقام مشاوریت پورې مربوط او دقیق لست دې یا د چارو اداري سره شریک شي.
یاد مشاوریت ارګ سره د اړیکو دارشد کاریوه اجمل خیال په مشری پلاوی وټاکل او ټول جنسونو د موجودي وروسته د چارو اداري د ترانسپورټ ریاست څخه په رسمي مکتوب کې دانتقال غوښتنه وشوه او جنسونه عملا دهمزنګ ته د ملي ثبات اړونده حویلي انتقال شوي چې د دې مکتوب سره په (۲۰) ورق کې ضمیمه دي وروستیو اجراتو له پاره تاسو ته درولیږل. ستاسو د همېشنیو همکاریو څخه وار د مخه مننه کوو.

د درنښت
Serat
ادم خان سیرت

په ولسي او سیاسي چارو کې د عالي مقام دوستر سلاکار

د دفتر رئیس

پته: شش درک ، ستاري لیسې تر څیرمه ،پل محمود خان ، کابل افغانستان. تلیفون شمیره: ۰۷۰۰۶۳۱۸۶ ، adamserat@hotmail.com

PAJHWOK
Afghan News